

# ستا تصویر

Ketabton.com

لیکوال: سیدمحمد سعادت (سیداحمد سعادت)

کال: ۱۴۰۲

شاعر: سیداحمد سعادت (سیدمحمد سعادت)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليکوونکي: سيداحمد سعادت

کال: ۱۴۰۲

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

## دکتاب پيژندنه

دکتاب نوم: ستا تصویر

شاعر: سیدمحمد سعادت (سیداحمد سعادت)

کال: ۱۴۰۲

وتساف: ۰۷۰۳۷۳۵۷۴٦

بریښنالیک: sayedahmadsadaat46@gamil.com

دلیکوال شماره: ۰۷۰۰۴۳۵۷۰۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نعت

زه یم مین پرمصطفی خیرالبشرمدني
دیدن یی غواړم داﷲ سه پر محشر  مدنی
ځومره شایسته دی حسن دار دی دادکونو سردار
دی په نبیانوآخر خوپه معنی کی دی اول مدنی
دطایب خلکو کی زهیر یی هم یی په کانو ویشتی
بدل یی نه غوښتی له خدایه وو سوااگر مدنی
پروخت دمرگ یی دامت امت ناری وهلی
بیخی غمجن وو زموږپه باب کی منور مدنی
پردی دنیایی ناروا هم یی گناه وی کړی
خوبیا یی هم شفاعت کړی زموو دلبر مدنی
سعادته وایه خپل تر وسه پرجانان درودونه
اﷲ بی درکړی په میزان کی ستاکوثرمدنی

...

شاعر: سیداحمد سعادت (سیدمحمد سعادت)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مصور

مصوره يو عرض لرم کوی که يا
تصويرديارمی رسموی اوکه يا
درته نخش بی په روانه ژبه وايم
ته لږ سوچ وکه چی دغه کار کوی اوکه يا
هوسی ذات ده خدای ورکړی سترگی غټی
اوس نو ته ووايه سترگی يی توره وی او که يا
حسن دامه گل اندامه يوسف ذاته
دځوانی درخته يی دنگه دروی اوکه يا
اناريی دی خوږلی که په رنگ يی دی لږلی
تردی يی لانورشونډی سری کوی اوکه يا
چی کله دی تصوير ديار راجوړ کی نوبيا هلته
سعادت بی شگلولو ته فريږدی اوکه يا

سيداحمد سعادت

...

شاعر : سيداحمد سعادت (سيدمحمد سعادت)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نڅا

په خاموشه دم خانه کی نڅیدمه
ستادیاد سره په شپه کی نڅیدمه
ته رایاده سولې مړي اوښکی مي توی سوی
ته خو نه وي ستا نامه ته نڅیدمه
ستا بیلتون وژلی پروت وم ترسهاره
ملنګ نه وو بس قبره ته نڅیدمه
میخانه وه ګیلاسونه دجامو وه
ستاخماره ومه هلته نڅیدمه
ستا یادو کی مبتلا ومه روان وم
لیوني وم په کوڅه کی نڅیدمه
ما ول یو واری احوال دسعادت ور وړه
ریبار نه وو سپین مرغه ته نڅیدمه

2023\12\18

...

شاعر: سیداحمد سعادت (سیدمحمد سعادت)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

هره لحظه دچا یادو را سره شپه کړیده
غم یی وژلی یمه خلکو تي بهانه کړیده
ټول به یی جوړ کړو نوربی نه ورانوو
دجنګه خلاص سو خراسان تازه دمه کړیده
ته چی آینی کی ځان ته وګوری څوک نه یادوی؟
دا ستا مجنون نن دصحرا سه تماشه کړیده
دمقدسو هیلو لوي کاروان می وه ځپل سو
خپلو اوړو می دغم خپله جنازه کړیده
نور بدي هیره کړم اشنا په ښه غوږو یی واوره
دا ستا سعادت ستا فریبنولو فیصله کړیده

...

شاعر: سیداحمد سعادت (سیدمحمد سعادت)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

پلار به دا ستا تابه زما مابه دځان خبره نه منله

دی زمانه کی دغه وخت نن د دی ښارخبره نه منله

ته وا شریک می په میراث دی همسایه ګاونډی

بیګاه ملک د دغه خوار خبره نه منله

مادخپل زړه راز کی بیان تاته دشعر په ژبه

ته خودغرضه یی جانانه تا دچاخبره نه منله

په ښکاره راسه رقیبان غمازان دواړه فریږده

نورمی جانانه د ضمیر سره په غلاخبره نه منله

سعادت خمار دی دجانان دسترګو

قسمت تباه کړم حسندار خبره نه منله

...

شاعر: سیداحمد سعادت (سیدمحمد سعادت)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نظم

له خپل ځانه سره ډوب وم

له جانانه سره ډوب وم

سوچ می لیری چیری تللی

له خپل هوښ څخه وتلی

پریوکلې چی تریږم

وه اجل ته نژدی کیږم

پسرلی وی چغهاروی

دمرغانو نوبهار وی

هرخوا ګورم خوشحالی وی

یوبل رنګه مهمانی وی

یوځای ناستی دی سپین سری

کیسی کړی خپلوکی غوری

بل ځای ناستی دی پیغلانی

دمین زړګی حال وایی

ورنژدی سوم لږ وخواته

دپیغلانو وه قطار ته

چی ناڅاپه یی نعاره کړل

وه قمیس ته یی راحمله کړل

شاعر : سیداحمد سعادت (سیدمحمد سعادت)

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ول ته ځوک یی څه دی کاردی**

**سنګه راغلي ځوک دی یار دی**

**چی می وکتل څهری ته**

**دیوسف وه معجزی ته**

**چی تشبه دآدم ورکړم**

**اوکه یا دشاپیرویو**

**حسن نه وو معجزه وه**

**دخالق یوه تحفه وه**

**زه چورتو اوپه فکرو کی**

**او دمصر زندانو کی**

**ماول خدای ته احد یی**

**هم خالق بنی آدم یی**

**ته یی راکی ته باچا یی**

**زما زخمی زړه تي دوا کی**

**چی را ولویدم دیار د دیواله نه**

**سعادت ووتم دخپله ژوندانه نه**

**سیداحمد سعادت** 1402 \9\10

**...**

**شاعر: سیداحمد سعادت (سیدمحمد سعادت)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نظم

ځه جانانه ځان تورتم کړو
د دي ورانی تباهی نه
چیری لیری یوځای ولاړسو
دباچادواکمنی نه
چی نه جرم نه قاضی وی
نه حاکیم وی نه یاغی وی
نه قومیت وی نه مذهب وی
نه ملک وی نه دملا مخالفت وی
ما وتا هلته یوځای سو
خبرنسو دی نړی نه
نه څراغ وی نه بریښنا وی
دسپوږمی رڼا خپره وی
چی نه ښار وی نه صحرا وی
یوعجیب غوندی دنیا وی
ځان دځان په معنی پو کړو
دبل کارپه کار څه کارکړو
هغه وخت دواړه راتاسو

شاعر : سیداحمد سعادت (سیدمحمد سعادت)

(c) ketabton.com: The Digital Library

**چی وطن ټوله سپرلی وی**

**چی مسجد کی ملا امام وی**

**او زموږ دی اقتداء وی**

**چی بندیز نه وی پرمینه**

**بس اذاده خپلواکي وی**

**دپیرخپله ذاهدی وی**

**دمورید خپله عاجزی وی**

**دسعادت قلم جاری وی**

**دبیان دی آذادی وی**

**...**

شاعر: سیداحمد سعادت (سیدمحمد سعادت)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

اول جانان او بیا خپل ځان وژنمه

نور دی دنیا سره می نده جوړه

چی پرزخمو باندی می مالګی پوکي

اول غماز دوهم شیطان وژنمه

پریوه خدای می عقیده ده نورخدایان کله سته

اول فندیت دوهم فاپان وژنمه

زما درب په ذات کی چورت اوفکر نه ځایږی

اول می فکر بل خیالات وژنمه

ته سنګه خدای یی چی ساتنه دخپل ځان نسی کړای

اول دی نیل دوهم آسان وژنمه

اویمه کافر نور سجده نکوم تاته ربه

یمه جاهله اور می خوبښ دی خو پیغور نه منم

...

شاعر: سیداحمد سعادت (سیدمحمد سعادت)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

ګرانه شبګیر یم ستاتصویر ته هیڅ خبری نه کړی
زړه می خوږیږی سترګی ژاړی هیح خبری نه کړی
څومره ناترسه بی پروا دی دابی روحه تصویر
زمادزړه کور په ودان دی هیح خبری نه کړی
که زه ژړیږم که خندیږم هیڅ اثر پری نکړی
داسی بی غوره دی ناځوانه هیح خبری نه کړی
زما دژوند هره لمحه تیوله دده پرنوم وه
دانمک خوره بی نمکه هیح خبری نه کړی
ماپه ژړا کی به تری وپوښتل چی ګران چیری دی
داخوګونګي دی بی زوبانه هیڅ خبری نه کړی
سعادت تهمت پرسر اخستی وو چی لوی بی کړی خدای
داخو اوس خپل نسو پردی دی هیڅ خبری نه کړی

...

شاعر: سیداحمد سعادت (سیدمحمد سعادت)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

نن بوت خانې ته ځم کعبې ته نه ځم
نن دبګوان ايشور فرقې ته ځم بيتې ته نه ځم
يومصور پر زړه راسم کې تصوير دجانان
د دې تصويره سره مرمه وتوبې ته نه ځم
ذاهد دې وايي څه چې وايي زه يې نه منمه
دا ريا کاره چې توبه کړې نو سجدې ته نه ځم
ماپه محراب کې نن ملا نه يوشيطان وليدی
په دغه وجه ميخانې څخه حجرې ته نه ځم
نن يې يوقتل کې يونوم به په بل نوم بدل کړي
له دغه شرمه احرام نه ترم روضې ته نه ځم
ويل کرونادہ روژہ مه نيسې کمزورې به سې
په خدای قسم چې داسې سوستې عقيدې ته نه ځم
سعادته تاچې مسلمان کې تاکافرګڼې اوس
د دې جهاده مې توبه ده نور ماشې ته نه ځم

...

شاعر : سيداحمد سعادت (سيدمحمد سعادت)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

دزړه پردښته می ودانه هدیره سوه خالیګاه ختمه سوه

ستادښنګروخبری ختمی سوی ښکلا ختمه سوه

نن یی دمور ومخته وروړی جنازی د ورونو

نور به ژړا سره نڅاکوو خنداختمه سوه

داسویلو باد دی رآلوتي خاص پر زړه لګیږی

چی به لاکم غم راته راوړی نور مسکاء ختمه سوه

نور میخانی څه می توبه ده اوسکریټ هم نه څکم

نن دساقی سره می ناسته وه بیګاه ختمه سوه

ښارونه جوړسول آبادی سوله کورونه جوړسول

نوربه شپونکی سندری نه وایی بیدیا ختمه سوه

سعادته ستانعاره نعاره نسول شعاریی ګڼی

دلته ناآهله اهلی کارسوله تقواختمه سوه

...

شاعر: سیداحمد سعادت (سیدمحمد سعادت)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# آختر

اختر داستاسو مبارکسه موږ آختر څه کوو
تعلیم دی خپل زوی باندی وکه موږ هنرڅه کوو
سهارچی وګتومابنام یی خورو داغه موبسته
پیسی ترځان آضافه نه غواړو ډالرڅه کوو
داستا دنیاده داستاخوښه په لوکسیز کی ګرځه
موږخوپیاده اموخته سوی یو فلډرڅه کوو
کچکول په لاس کی در پر در ډرخم خیرات غواړمه
پدی جولۍ کی یوڅه راکه نور سنګر څه کوو
ذاهد په قصده نن دتاک لاسونه غوټ پریکول
ویل چی دی سه شراب جوړسی بیا ویل څه کوو
دتنهایی ژوندکی لوی سوی یم تنهابه ګرځم
نو آینده کی پلنګ څه کووو دلبرڅه کوو
سعادت ملنګ دی دشونډانو په خوند نه پوهیږی
دبنګړوشرنګ ووپیزوان نه غواړو ګدرڅّه کوو

...

شاعر : سیداحمد سعادت (سیدمحمد سعادت)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

نن می په غلا غلا دجانان سره خبره وکړه
بیګاه موږ دواړو دوصال سره خبره وکړه
چی راخبرنسی رقیب و اغیار
یوه لحظه می ددماغ سره خبره وکړه
ستادجفا غشي می خاص دزړه پرسرکی سو ښخ
هله لږ ژر کوه درمان سره خبره وکړه
هم دی عاشق کړم هم دی فریښنولم
مابنام می سم دم دژړا سره خبره وکړه
که دی رشتیا ویل منصور غوندی په دار ته رسي
دی زمانی نن د درواغ سره خبره وکړل
سعادته ستاوو خو ستا نه سو نور یی مه جوړوه
دا وطن خرڅو چا دچا سره خبره وکړه

...

شاعر: سیداحمد سعادت (سیدمحمد سعادت)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګناه

ربه عاجزیم ګناهونوسه توبه کومه
یم مسلمان د دی خبری تش دعوه کومه
میندی به حمل کړی اولاد خوپه خبر به نه وی
ربه ژړیږم چی دبیری داکیسه کومه
څوک به پرسر څوک به پرپښو څوک پرلاسو وی روان
په ورځ دحشردی دفضل ننداره کومه
سی به راجمعه بیا اتلس زره قوم پریوځای
دنیمی ورځی برحساب دی عقیده کومه
چی عملونه تلل کیږی نوجزابی هم وی
دنتیجی عمل نامه کی می راسته کومه
سعادت راغلی وو دنیا سه ګنهکارمخ تورن
خو غفور ویل چی ستاپه باب کی زه عفوه کومه

...

شاعر: سیداحمد سعادت (سیدمحمد سعادت)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مخ پټ که

مخ پټ که دوړی دی ګرز دی اوغباردی
ستاپرسپین جبین باندی خالونه دی زلفی اوپیږوان دی
زړه می نه صبریږی که هرڅوله تایی صبر کړم
مړی دی وینی اوسنګسار دی
سترګی دی قاتلی دی مقتول به سم
غشی دی لینده ده اوبمباردی
په ویښه اوپه خوب کی بل څوک نسته بس هم ته یی
چورتونه دی فکرونه اوخیالات دی
کله چی ته زموږ پرکوڅه راسی نو زه پو سمه
مشک دی عنبرونه خوشبویات دی
ستا سعادت په تاپسی پاګل دی نوربه څه وایی
شعر دی غزلونه رباعیات دی

...

شاعر: سیداحمد سعادت (سیدمحمد سعادت)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نه منم

نه منم دا نه منم هیڅوک بی تانه منم
خلک که هرڅه وایی زه یی بکواس نه منم
جنګ دی زماوستاترمنځ څه کوی اغیار ظالم
خوږ دی سمه مړدی سمه زه یی بوګاښ نه منم
مینه کی پیغور وو غیبتونه تهمتونه دی
مینه خو هوسا نده زه یی هو سا نه منم
پیره یو واری راتګ دی وه دنیا ته بل ځل کله سته
پیره که بل ځل وایی زه یی بل ځل نه منم
شیخه وعظ فریږده میخانه وو شراب نه فریږدم
ماته دوږخ دی دنیا ته راوړه پرهغه دنیا یی نه منم
شیخه ستا جنته لا بلها بلها مودی پاته
شیخه زه ساقی یم میخانه کی کتاب نه منم
ستاپر تورو سرو زرغونو سترګوباند مړ سعادت
خلک که بل رنګ خوښ کړی زه خو بل رنګ نه منم

...

شاعر: سیداحمد سعادت (سیدمحمد سعادت)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غلاوکړا

هم می پایلوچی هم لوچکی اوهم می غلا وکړل
ماپه خپل ژوندون کی دلته هر رنګه ګنا وکړل
څه می کړل ترلاسه سه می وکړل څه را پاته سول
زمادژوند کتاب کی دایوه صفحه هم پاکه سول
نه دچا عزت نه دچاکور نه دچا ښه سومه
هسی یو عبث غوندی بیدیاکی یو واښه سومه
نه می څوک جانان نه می صنم نه می څوک یارجوړکی
دی لویه دنیاکی می وه ځان لره زندان جوړکی
څوک پرچامین سی څوک بیا لاره له جانان وکی
دادنیا فانی ده زوی دپلارڅخه انکار وکړی
او شیخه په منبر کی جانان نسته میخانی ته ځم
ستا سعادت پاګل سو سجدی نه وه پیالی ته ځم

...

شاعر: سیداحمد سعادت (سیدمحمد سعادت)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څه وکم

څه وکم ستاسره زه څه وکم

بد وکم که ښه وکم څه وکم

تاخومې دزړه ګلاب ترې وشکوی

اوس په بې ثمره  بوټې څه وکم

مامې دخوبو سلسلې جوړ .تعبیر ته ایښي وی

اوس چې جانان نسته تعبیرونو باندی څه وکم

سترګې دی ورپوټې کړی په ژبه دی ګونګی هم کی

وایه په بې روحه جسم څه وکم

ماخوټوله شپه په توره شپه باندی سباکړله

اوس چې رڼا راغله په برېښنا باندی به څه وکم

تادچهار پایې لایق ونه ګڼې تابوت کې وړی

روغ چې وو انسان نوپه ټوټه ټوټه به څه وکم

تاخودسعادت مینه بکواس ګڼل ترې ولاړلې

اوس چې دبل چا سو نو ارمان باندی به څه وکم

...

شاعر : سیداحمد سعادت (سیدمحمد سعادت)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تصویر

تا ول په کورکی تصویر مه ساتی لمونځ نه قبلیږی

شیخه په زړه کی می تصویر دی ته واسنګه به وی

تادجانان حسن لیدلی کله

پیره په نیمه شپه سهار وی ته واسنګه به وی

ستادبنګړو زما زولنو دایورقم شرنګی وی

ده دی زندان توری خواری دی ته واسنګه به وی

نن یی تر کوره ځم پروانکوی

ددی مالت لاری اوړدی دی ته واسنګه به وی

دغه مجلس کی ذاهدان ندی فاسق مخلوق دی

چی وروو په ورور وژنی قاتل دی ته واسنګه به وی

ریبار راغلی دی احوال د سعادت داسی وایی

چی پر جانان خاوری پرتی دی ته واسنګه به وی

...

شاعر: سیداحمد سعادت (سیدمحمد سعادت)

(c) ketabton.com: The Digital Library

درڅخه لیری ګرځم

لکه دوږخ درڅخه لیری ګرځم
لکه جنت می تل په زړه کی اوسی
انګور انګور شراب جانانه
په تاک نه یی لوږ ډنډور کی اوسی
دزلیخا مِکر او فکر دواړه
لکه یوسف بندي خانه کی اوسی
حسن دی وران مه سه خراب دی کړو موږ
ظالمی هروخت په تِیکری کی اوسی
سعادته مه ستایه سری شونډی پیزوان
په هوښ کی نه یی بی هوښی کی اوسی

...

شاعر: سیداحمد سعادت (سیدمحمد سعادت)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څه لیکمه

زموږ په باب ستاسو په باب باندی به څه لیکمه

افسوس ارمان وکړم وه چالره به څه لیکمه

دنفرتونو په دنیاکی دی رالوی کړم خدایه

بوستان وران سوی بلبلانوته به څه لیکمه

دمینی راز وایی د ټولو مخکی

په مینه پو نده دلدار لره به څه لیکمه

پرمخ چی ځی نو شاته بیا وګوری

دغی یوی خانه خرابی ته به څه لیکمه

سعادت یی رسم کی تصویر دجانان

بادامی سترګی سرو شونډانوته بی څه لیکمه

...

شاعر: سیداحمد سعادت (سیدمحمد سعادت)

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیخی هیڅ نه کیږی

دژوندسفرکی بی له یاره بیخی هیڅ نه کیږی

دورونو منځ کی لوی دیواله بیخی هیڅ نکیږی

په زیارتونو په دعاوو په نفلو می غوښتی

نورمی آمید درڅه ختمیږی بیخی هیڅ نه کیږی

دمذاهبو ټیکدار ملایان

زماوستامذهب جلادی بیخی هیڅ نه کیږی

یامین سوی نه وای یامو لیدلي نه وای

اوس چی دا هرڅه کیږی یاره بیخی هیڅ نه کیږی

دخیال تصویر ته دی په خیال کی په کتو ستړی سم

بی تاڅه نه یمه جانه بیخی هیڅ نه کیږی

ته بیخی شوخ هغه خاموشه انجلی

سعادته ستاو دصنم دابیخی هیڅ نه کیږی

...

شاعر: سیداحمد سعادت (سیدمحمد سعادت)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## درته وسوځوم

که ته زما سوی داجهان به درته وسوځوم

جهان خو فریږده داخپل ځان به درته وسوځوم

زماترسنګ کښینه جانانه چی دی سیال جوړکړمه

سیالان خو فریږده غمازان به درته وسوځوم

که په معنی یی سولی پو دمینی

ته به عاشق سی عاشقان به درته وسوځوم

سعادته لیکه څه چی لیکی وس یی ولیکه ټول

که ته شاعر سوی شاعران به درته وسوځوم

...

شاعر : سیداحمد سعادت (سیدمحمد سعادت)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## قاضی صاحب

بی جرمه جرمانه غواړی قاضی صاحب
یوڅوک رانه دزړه بدل کی زړه غواړی قاضی صاحب
ما ورته قلم گوتو کی ونیوی چی واخله
سړی اوس ضد نیولی دی وسله غواړی قاضی صاحب
زماپه خپلو وینو ودان سوی ملک ته گوره
اغیار خپلو کی گډ دی اوس قبضه غواړی قاضی صاحب
هیڅوک مو جوړیدلوته نور نه راځی ولاړسی
ترخوبه لا وگړی یودبل څخه بدله غواړی قاضی صاحب
سعادت به توله ژوند دیار ترسترگو صدقه کړی
بانه یی اننگیو ته سایه غواړی قاضی صاحب

...

شاعر: سیداحمد سعادت (سیدمحمد سعادت)

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لابیره ختمه نده**

**دامن فضاخپره خو بیره ختمه نده**

**پردغه ښارباندی رڼاخپره ده خوتیاره ختمه نده**

**د عمری عدل ناری دی وهلی**

**مورکی په سوال ده لوږه ختمه نده**

**هالیکس موټر دکابل جان پاخه کوروباندی څه نده جوړه**

**بلا بهر خورو ښیږی لادوکه نده ختمه**

**سعادته مه سپاړه احوال  دهغو**

**کنی جلاد او تختته لا رسئ ختمه نده**

**ستا اخطارونه اوجنګونه ده همدی لپاره**

**واده لری بل پسي مری لاجذبه ختمه نده**

**په تورو شپو باندی مزل کړو چی تیاری ختمی کړو**

**په پښتنو کی لا دعلم ډیوه ختمه نده**

**سیداحمد سعادت**

**...**

**شاعر: سیداحمد سعادت (سیدمحمد سعادت)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دلیکوال آثار

- د ډنډولسوالۍ عمومي تعلیمي وضیعت ارزول
- حجاب او ځوانۍ
- غزلي او شعرونه

شاعر: سیداحمد سعادت (سیدمحمد سعادت)

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**